داکتر محمدآجان مرزی

۲۰۱۶/۰۵/۱۱

# د اوښکو سيلاب

نسيم راوړل بيا يادونه هم د اوښکو سيلابونه
زمزمې د پرون اورم د مطرب سُر او تال نشته
راشه ای ساقي د قدر پلمې نورې راته مکړه
د ژوندون آخر ساعت دی کاروانونه روانيږي
مانی رنګې د خيالونو د فکرونو په ګرداب کې
اوښکې پاکې کړه په سترګو د بېکسه ماشومانو
مانی رنګې کړه د لافو د عمل ميدان ته درومه
هره خوا د غم نارې دي اور د سوو زړونو ګورم

تېر شو وخت پاته شول ماته د ابترو پرهارونه
ورک راګونه د هستۍ شول ورک د مينې غزلونه
غم مېلمه شولو په زړه کې راکوه نوي جامونه
د کوثر ويالې نه غواړم د ژوندون راوړه سازونه
کيسې پرېږده د خوبونو را پوره کړه ارمانونه
د رڼا کاروان دې مل کړه مات د ظلم ځنځيرونه
ارمانی خبرې پرېږده ورک خيالی کړه تصويرونه
راوچت شه اوچت غږ کړه ورک د بدو تدبيرونه

د ظلمت تُورې چې وژنې د رڼا بچيان بيرحمه
مسيحا شه د رنځونو ورک له زړونو کړه دردونه




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ